# ځما دشعری تولګی نه څوغزلی

## ---------------------------------- داکتر مل

### مرکی

خوړی شيبي دژوند څنګ په څنګ سره تيريږي
د هجر ترخي ورځي په ليد و سره هيريږي
پالنګ کي اړخ په اړخ مرکي سره کول
د زړونو د پيوند مزي لاپسی تينګيږی
په مينه يو اوبل ته کتل ستر عبادت دی
مينوو کي د پاکي ميني هيلي قبليږي
د ميني لمبه چي يو خل په زړه کی بل شي
ګرمی د هغي لمبی «مل» په زړه پاتي کيږي

**** کريفلد جرمنی 2020-04-07

### پيغور

د ناکام ميني پيغور دی شو را پاتي
د رقيب سپک اوسپور شو را پا تي
هيڅ آرمان مي ستا په مينه پوره نشو
د ارما نونو شر اوشور شو را پا تی
نه مي ستا سری شونډی يوځل ښکل کړ
لوی ارما ن دزړه په کور شو را پا تي
ځما د «مل» ديری ګيلي له تا کيږي
چی طعنه پرما د نور شو را پا تي

**** کريفلد جرمنی 2020-04-07

### دزړه خواله

دژوند په مزه پوه شم چې د تاسره مي سرشو
پستي خوږي خبرې دې پر ما شیرو شکرشو
دنیا مي ستا په مینه نوې خوند اورنګ واخیست
واسواس اواظطراب مې له زړه یودم بهر شو
خما ر خما ر کتل دې مي په زړه هیلي پیداکړ
چي شپه مي د برات هره ورځ پرما اختر شو
چي ته اوس را سره یې «مل» نه لرې هیڅ غم
ستا مینه ځکه ما ته دهر بلا په مخ سپر شو

****** کریفلد جرمنی 2020-07-09

## نامراد

چې شا اړوې ماته یوه ورځ خو دې په یاد شم
دا اوس چې له استغنا دې ناهیلی په فریادشم
ځما مینه د تا سره بې ریا د زړه له تل وو
ماداسی انګیرلی چې لمړی مینه سره زر دي
تا خواست ځما ونه منل بې تا دلبر برباد شم
کلونه که شي تیر تل مدام دې یادومه
په حال خپل ژاړم چي په مینه دې ناښاد شم

****** کریفلد جرمنی 09-04-2020

## افسانی

راځه کړو اورین مینه خپل چي پاتي افسانې شي
مینوو ته سرلیک په هر وخت او زمانې شي
یا هسې د فرهاد اود شرین مینه سره وکړو
چي ځما اود ستا د پاکې مینې پا تي نښاني شي
خلوت کې مخا مخ کله په قهر کله پخلا شو
چي مینې ته له سره زمونږ جوړي بهاني شي
په مینه او په اخلاص سره له مینې واخلو خوند
چي آهنګ زمونږ دمینې«مل»جوړي ترانې شي

**** کریفلد جرمنی 2020-04-10

## بسمل کړم

بل دی نور څه ونکړپه نخرو دی کړم بسمل

هم دسترګو په غمزو دی کړمه ځان ته مایل

*

هفه ورځ مي ښه یادیږی
ستا کتل مي نه هیریږي
هرکله په یا د مي ولویږي
چي دخپل دفتر دمینی دی په خوښه کړم شامل
بل دی نور څه ونکړ په نخرو دی کړم بسمل

*

له ګودره بیا تر کور دی
دبنګړیو شر وشور دی
په کاجل سترګی تور دی
د پستي خوږی خولګي ته دی ګدا او سا یل
بل دی نور څه ونکړ په نخرو دی کړم بسمل

*

تا ته ځان می وسپارله
ستا هرڅه می ومنله
ځیر می تا ته وکتله
په اقراردخپلي مینی په رضا دی کړم قایل
بل دی نور څه ونکړ په نخرو دی کړم بسمل

********

کریفلد جرمنی 2020-04-10

## پلمي

کوځي ته دی راځمه څه پلمي به کړمه جوړ
که ما سره په مینه آشنا وکړی روغ اوجوړ
خطا که مي وی کړی درواری شم ومی بخښه
نازونه دی تل اخلم نه کوم ډیر شر اوشور
ترڅو به مرور له ما ګرځي ډیر ناقراریم
پخلا شه چي شي ورک می غم د زړه دتل له کور

هغه به وی څه وخت چي په زنګون دی سرکیږدم
چي تا په مینه ونا زوم ځیر شم تا ته ډیر

******** کریفلد جرمنی 2020-04-11

## دوربل قصه

ماته خوږ قصه د جا نا ن د وربل قصه دي
دسرو شونډو دمسکا اودهغی کاکل قصه دي
رنګین یی رخسار،زلف تار تار سترګی خمار
دهغی اوردبیلتون کي ځما د بسمل قصه دي
هرخواته چي ګوروم مخامخ هغه هم ګوری
له هغی دشونډو خما د بوسي دسا یل قصه دي
نه مي هیرېږي،زړه نه صبرېږي ناقراریم«مل»
پا لنګ د پاسه هغی ته ځما د ختل قصه دي

****** کریفلد جرمنی 2020-04-11

## میخانه

جامونه تشوی عاشقا نو میخا نوکی
مطرب نغمي دميني غږوی د سا زپردوکی
پیا لو کی تویوی سا قی دم په دم شراب
رندانو تول خما ر لا نه دی په نیشو کی
هریودخپل زړه وري په یادځکی ډکی پیالی
د مینی خاطری یادوی پخپل خیا لو کي
له ځا نه او له ماحوله «مل» تول بی خبر
زنګیږی د جا نا ن خپل دزلفو په تیا لوکي

****** کریفلد جرمنی 2020-04-11

## جدایی

جدایی ستا په انګاریم کیښینولي
هرشیبه می ستا په یا د ډیر ژړلي
ناغدارسترګی دی ځما چي یا د شوی
ستا په یاد له سترګو خوب می تللی
ددیدار له حسرت دی نه لرم هیڅ ارام

اوس پرما ستا همزولی پوهیدلي
ستا اورین مینه رګو کی مي ګرځی
چي پرتا له هغه وخته«مل» زړه بايللی

******* کریفلد جرمنی 2020-04-12

## غمګسا ر

ته څما د زړه تسل ته غمګسا ر یی
بی همتا څما د خوښی تنها دلدار یی
ما په مینه ځان تا ته درسپا رلي
ته څما د برخه لیک کا مل اختیار یی
په لیدو دی مي تشویش ورک کیږي
ته څما د تودی مینی سزاوار یی
چي هرڅومره دی وستایم بی ځای نه دي
ته د«مل» د ټول خوښیو خوږ نګار یی

**** کریفلد جرمنی 2020-1204

## غوښتلي

چي اول ځل په ګودر مي ولیدلي
یا چي ما ستا ښکلی شهلا سترګي وکتلي
دزړه تل کی مي ستا مینه ځاي پرځای شو
بیا چي کله دی په شونډو مسکا وتوکیدلي
په لید و دی شم پر خپل زړه بیواکه
له حیا چي ستا صورت هم ډیر لرزیدلي
نادم نه یم چي له تا سره می سرشو
(مل) هم ستا په شان صنم همیش غوښتلي

***** کریفلد جرمنی 2020-04-12

## خوشرنګه

له څنګ مي چیری مه ځه چي خوښیږي مي بل رنګه
هرځل چي درته ګوروم له پخوا ښکاري خوش رنګه
ستا مینه مي د زړه په چمبر کي ځای نیولي
پر تا چي مي نظر شی نیشه کیږمه بی بنګه

د مینې پیمانه دی هیڅوخت نشمه تاکلې
د لیچو د بنګړو دی چې هروخت واورومه شرنګه
ځما او ستا مینه اوس لازم او ملزوم شوی
ته شمع زه (مل) ستا په هاله یمه پتنګه .... 13-04-2020

## شوګیرونه

اوس هم ښکلې ښکاری جوړه نه لري په ښکلو
د هر ښکلې پر ځای ته ځما یی د منلو
ستا مینه اورین شوندی لعل ښوی بلورین دی
په نکریزوسره لاسونه توری سترګې په کاجلو
په بیلتون دی می هسی شو ګیرونه ډیرتیرکړي
هومره ډیر مې ژړلي چې هیڅ نه دي د ویلو
داده اووسه پر(مل) له تا هیڅوخت نه تیریږي
زه هیڅکله نه مړیږم مخا مخ دی په کتلو

****

کریفلد جرمنی 13-04-2020

## دزړونو پیوند

مینه د زړونو د پیوند محرکه دي
نا ز او کرشمي د یا ر د مینی وصله دي
لیده کا ته یوبل سره اسا س د معاشرت دي
پلنګ کي ځنګ په ځنګ سره مزه په مرکه دي
بی مینه د اوبو پر سر ژوند لکه حباب
په میل سره یوبل ته اندازدشاد په ځیرخوړه دي
د مینی فلسفه (مل) د مینو خوشحا لی د ي
ګیله پخلاینه د تینګ مینی یو وسیله دي

****

کریفلد جرمنی 13-04-2020

## لمبی بلوی

د مینی سکروټی د زړه تل سوځوی
هنداره کی چی کله یار وربل جوړوی
کتلي په نخري سره له لیري غلچکی
د مینې انکار په غمزوخپل لړوي

همتای په انجمن د خوبانو کې نشته
په نا ز کله ناکله چې کاکل ښوروی
نشته دلګرمی«مل»بی دهغی له دیداره
کتو سره په زړه کی لمبی بلوی *** کریفلد جرمنی 2020-04-14

## لیکم

قلم مې په لاس صفتونه دی لیکم
دستادنازخبری خاطری ته خپل راوړوم
هغه وخت یادوم چې ته مې ولیدلې
د زړه تسل لپا ره تیروختونه یادوم
هغه مازدیګرې د بر ګودر پر غاړه
چی ستا له دیداره هیڅ زه نه مړیدم
د ستا په وعدو مې پوره باور وکړ
وفا دی ونکړ خکه اوس دی هیروم

******* کریفلد جرمنی 2020-04-14

## وفا ونکړه

چې هغې مې خوښیده وفا ونکړه
چی امید می تری کیده پروا ونکړه
د خپل حسن دغرور په استغنا کی
یوځل هم پام ځما په خوا ونکړه
ځما دمینی هیلې خا وری ایری شو
چی پرما دتودی مینی هم رواونکړه
پرما څه چې اوس تیریږی هغه کالم
ها پر«مل» دخپلی مینی سخا ونکړه

******** کریفلد جرمنی 2020-04-15

## همتا

همتا دی چې په ښکلو نه وینم هغه ته یی
په ښکلو چې نظر زه غورځومه هغه ته یی
یوه شیبه هم هیڅکله له یاده می نه و ځې
په زړه چې دچا مینه ګرځوم هغه ته یی
بل چا سره ستا مینه می نه دی بدل کړې

په حسرت دوصال یی چي سوخوم هغه ته یی
«مل» تا ته هرځلی وار په وار یاده کړي
لیدو ته یی پلمي چي جوړوم هغه ته یی

**** کریفلد جرمنی 15-04-2020

## زه یم

چي بیلتون کي دی تل ژاړي هغه زه یم
چي په ځنګ کی دی خپل غواړي هغه زه یم
ته ځما د نیکمرغیو لوی ځښتن یی
چي د ستا په مینه وياړي هغه زه یم
هر شیبه در پسي ډیره خپه کیږم
دراتلو لار چي دی څاری هغه زه یم
«مل» په مینه دي هیڅوخت پیښیمان نه دی
چي د ستا په یاری نازي هغه زه یم

******* کریفلد جرمنی 2020-04-16

## نوبهار

شپه د سپوږمي نوبها ر ګل ګلزار دي
پالنګ کی دی ځای تشه سترګي ځما په انتظار دي
د تا سره پا لنګ د پاسه خوب مزه کوی
نسیم چي ښه چلیږی هم دآبشا رو شره هار دي
راځه آشنا چي مینه سره وکړو دوه په دوه
ځواني په مینه تیرکړو ځکه عمر بی اعتبار دی
زړښت کي ندا مت «مل» نه لري هیڅ ګټه
راځه چي مینه وکړو ښه موسم د نوبهار دي

******** کریفلد جرمنی 2020-04-16

## پخلا کړم

پیغور د رقیب نه منم اخر به دی پخلا کړم
چي وسه مي رسیږي له رقیب به دی جدا کړم
د تا سره مي مینه توقه نه دي ریښتیا دي
زحمت پر ځا ن ګالم چي ادعا خپل ریښتیا کړم

باور دی پرما اوشه چي ته مي ډیر خوښیږي
زه غواړم د خپل میني حقیقت تا ته افشا کړم
بی تا له اورین میني بل ارمان مي زړه کي نشته
زه «مل» غواړم چي ستا دزړه په تل ځای پیداکړم

******* کریفلد جرمنی 2024-04-16

## خلوت

په حضوردی چي باریاب شم هغه دی یاد دی
چي نایل دي په دیدار شم هغه هم دی په یاد دي
چي په غاړه د ګودر سره دواړه مخا مخ شو
چي دی وخندل په مینه ماته هم هغه دی یاد دی
له رغبت چي ما په مینه تا ته ځیر ځیر کتل
له خوښی چي مي ژړل هغه دی هم په یاد دي
چي پر «مل» ورحمید لی او په مسکا شوی
چي دی وبلم خلوت ته هغه هم دي په یاد دي

******** کریفلد جرمنی 2020-04-16

## ځلانده ستوري

چي نظر مي شي پرتا پردی له حیا کیږم
په ځپو ستا د ناز کي له خپل ځا نه جدا کیږم
ماخپل ځا ن ستا په حضورکی څوځلی ازمایلی
هرځل ستاچي نظرشوی لاره ورک وارخطا کیږم
ځما دمیني په آسمان کي ته دهیلو می یی ستوری
په تیا رو کی تل محتاج ستا د مخ په رڼا کیږم
ستا پستي پستي خبری «مل» ته نوي ساه بخښی
مرور چی له ما کیږي له خپګان په ژړا کیږم

***** کریفلد جرمنی 2020-04-18

## نګاریی

ته ځما د پاکي میني سزاوار یي
بی همتا ښکلي ښایسته ځم نګار یی
ځما د میني په دنیا چی یی ننوتی

له هغه وختـه ماسره ښه وفادار يی
تا ځما له زړه غمونه تول ایستلی
ته ځما دهوسا ینی نژدي یار یی
زه هم نا ز اوکرشمی دی را اخلم
ته د«مل» دنیکمرغیوخوږ دلدار یی
****  2020-04-19

## خوښیږي

څوک په عزت څوک په ثروت په ننګ ونام خوښیږي
ځما دخپل صنم عشوی په څنګ د بام خوښیږي
بیلتون د هغه آسا ن نه دي تحمل غواړي
چي دهغه فراق کړم هیره ځما د میو جام خوښیږی
هغه وختونه مي یا دیږي چي مي ولید هغه
د هغه وختونو خا طری مي تل مدام خوښیږي
چي «مل» د هغي له دیداره هیڅ نه مړیدل
څو چي ژوندي یم د یار مینه مي بار بار خوښیږي

******
کریفلد جرمنی 2020-04-20

## دمینی اور

څه د میني د اورلمبه څه ځواني اوڅه مستي وه
څه په لاره د ګودر کي ا شاری د ښا پیري وه
یخ نسیم د پسرلي له خوا را چلید له
نه جګړه وه نه شخړه آرامي او نیکمرغۍ وه
پالنګ پاس دبام پرسرڅنګ په څنګ پروت یاران
مرکي تر برستن لاندی په مینه او دلګرمي وه
عا شقا ن په شپیلیو کي خپل مینه اظهار ه ول
خوږنغمی یی غږول وړاندیز د تینګ دوستي وه
ها وختونه ها یادونه «مل» واړه خوب وخیال وه
ها چي ځما مینه اورین ، آتشین او توفاني وه

*********
جرمنی کریفلد 2020-04-21

## یارشه

یا می یار شه یا غمخوار یا پردی او اغیار
نور مي زغم پاتي نه دي يمه ډیره ناقرار
ننوات مي نه مني مخ په بل خوا اړوي
پرما ونه رحميدي ناکردی دی ډیربی شمار
ته له ما چي مرور یی په ګناه نشم خپل یوه
شو آرمان مي په زړه پاتي ځما نشوی غمګسار
دا دناز اود استغنا ورځی هم به دی تیر شی
یوه ورځ به پیښیمان شي د «مل» واوره ګفتار

**** جرمنی کریفلد 2020-04-21

**لیدلی نه دي**

ما دبل ښکلي په شونډو خندا ستا نه دی لیدلي
بی له تا مي په بیلتون کي چا پسي ژړلي نه دي
ته ځما په آسمان دهیلو یی ځلانده یوه ستوري
پام مي بی له تا ښکلي بل یو ښکلي وړي نه دي
ستا پستي خوږي خبری مي هروخت را یادیږي
ماهم ستا دناز خبری له یا هیڅ نه دي ایستلي
بی له تا د تودی میني بل ارما ن نه لری «مل»
ما د بل ښکلو مینه په زړه هیڅ منلي نه دي

******* کریفلد جرمنی 2020-04-22

**بایللی**

په مینه د بل چا مي داسي ځان بایللي نه وه
له ما تا چي زړه ویوړ بل مي چا زړه وړلی نه وه
زه د ستا د تورو سترګو دغمزو په لومه ګیر شم
ما د ستا په شا ن د لکش بل صنم لیدلي نه وه
دا چي ته مي آشنا شی وایه څه پلمي کړم جوړه
ځکه زړه مي بی له تادبل ښکلی ترتاثیرولویدلی نه وه
اوس د «مل» تما یل تا ته ښه وی څرګند شوی
تا هم هیڅوخت ما په شان بل مین کتلي نه وه

***** کریفلد جرمنی 2020-04-22

**بیخودی**

نشم ځان نیولي چي په شونډو دی مسکا شي
یا چي دي په مینه ستا نیمرخ نظر پرما شي
ادا چي دی وګوروم خود بیخود له ځانه کیږم
د شونډو له سرونه دی بوسه مي تمنا شي
رګونو کی می ستا د مینی اور کړی لمبی
ګذار چي ستا دسترګو ډیر په مینه ځما پخواشی
احسا س ځما د مینی ځا نته نشی پوهید لي
«مل» غواړی چی ځما په مینه ته ګله رضا شي

*****

کریفلد جرمنی 2020-04-22

## آشنا شی

په کوم ژبه تا ته خپل مینه ا ظها رکړم
یا د زړه راز پخپل خوله تا ته اقرار کړم
ستا مینه له ډیر وخته مي په زړه وه
ډاریدم چي تا ته خپل مینه آشکا ر کړم
ما چي ولیدي په زړه مي شو ستا ځاي
و می نشو په ویلو چي بی درنګ تلوار کړم
هیله من یم چي ته د «مل» آ شنا شي
چي دستا په ځنګ کي خوښ مي روزګارکړم

****

کریفلد جرمنی 2020-04-23

## لوریږه

د اورین میني دی نښی ما ته پریږده
ګرمي شونډی دی په یخ شونډو مي کیږده
په بیلتون دی مي یار ډیر ژړلی د ینه
اوس نژدی می شه په ځنګ را وغزیږه
د بیلتون ترخي یادونه رانه هیر کړه
په پالنګ کی اړخ په اړخ یاره تاویږه
په حضوردی«مل» سیراب پخپل دیدارکه
په ډیر مینه اوپه اخلاص پرما لوریږه

*********

کریفلد جرمنی 2020-04-26

## چاته نشم

په ذهن مي څه گرځی خو ويلي چاته نشم
هغه مي ډيرخوښيږی خوځيږلی چاته نشم
دهغي دميني اور تيول صورت مي سوځولی
په دی سوی صورت خو کتلي چاته نشم
پرما ښه پوهيږي چی می زړه پری ورکړي
د هغي له بيغوری نه خو ژړلی چا ته نشم
(مل)کوره مينه اوردی تاکړي اورکی کوردي
داکور ډک له انگاره خوسپا رلی چاته نشم

********

کريفلد جرمنی 2020-04-26

## هيله

واتن دی له ما ونيول يو ورځ به پيښيمان شی
ځما په شان مين پسی اخر به په گريان شي

*

زرگرباندي پيزوان می درته نوی جوړول
له ښه مي کلان ستا وربل ته تيولول
احساس چي می معلوم کړی بيابه حيران شی
ځما په شا ن مين پسی آخربه په گريان شي

*

ما تا سره د مينی نوی طرحي لرله
د تا نخری هر وخت په ليمو مي منله
ځما مينه کم مه نيسه يوورځ به په ارمان شي
ځما په شا ن مين پسی اخر به په گريان شي

*

بيلتون نه دی ډاريږم مه ځه ليری له ما
تر څنگ می اوسيږه ډيره گرانه پرما
«مل» خوښ ساته جانانه چي مينه دی عيان شی
ځما په شا ن مين پسی اخر به په گريا ن شي

کریفلد جرمنی 2020-04-27 ******

## یوځل بیا

که نا ز دی مي وانخیستل ګیله کوه له ما
له ښکنګ مي چیری مه ځه مه پریږده یواځی ما
ما هیڅکله په مینه ستا کمي هیڅ نه ده کړي
بیلتون کی مه مي ازما یه طاقت نه لرم بی تا
د خپل مینی احسا س په سترګو کي مه ګوره
په سترګومي شي اوښکي چي مخ واړوي ترشا
بی تا په ژوند کي نشته ما ته بله دلګرمي
مین «مل» پرتا دي خبروم دی یوځل بیا

کریفلد جرمنی 2020-04-27 *****

## لوګي شم

لوګي شم په ادا دی بی همتا
زړه دی له ما وړی والله وبالله
چي ومی لیدی شم په زړه بیواکه
لید لی مي نه وه ښا یسته صنم بی تا
ما خپل مستقبل ستا په سترګوکی ولید
هغه چی می زړه وړي همدا ته یی دلربا
پرتا چي مي نظرشي بیواکه لرزیږم
«مل» نشي پتولي خپل مینه له تا

کریفلد جرمنی **2**7-04-2020 ****

## نه تلیدل

ته چي یی خندلي په خندا دی زړه مي وړي
کله چي په ناز دی آشنا ما ته ځیر کتلي
ښبه یی همدا چي په سرو شونډو دی مسکا وه
ګریوان له چا که ستا دواړه هیلی وه راوتلي
ځما هم درغبت ښیی بیواکه په ښپو شو
چي سترګی دی ځما په سترګو کله ولویدلي
د مینی مي تول نه تلید ل په هیڅ یو تله
چي کله ستا دمیني په اباسین«مل» غورځیدلي

******* کریفلد جرمنی 2020-04-27

## پرما

ماچي د مینی درخواست وکړ بی با ور وی پرما
چي مي خندا په خوله دی ولید لوي اختر وه پرما
چي بی غروره ځما غوښتنه دی په زړه ومنل
تور ترږمی کی سپین رڼا بیا د قمر وه پرما
تشویش دزړه اواضطراب می په مسکا دی ورک شو
رڼا د سپین مخ دی راخپور له لر او بر وه پرما
اوس یم خوشحال چي موزړونه سره پیوند نیولي
دا پرزوینه «مله» ګوره چي په مینه د دلبر وه پرما

**** کریفلد جرمنی 2020-04-28

## جانان

په برګودر وعده راسره کړی نن جانان راځی
زر ځم لرم تلوار چي ځما شاه خوبان راځي
لمر په پریوتو دی ما زدیګر شو ځم ګودر ته
نسیم خوږ چلیږی ځم جانان می خرمان راځي
منګی یی پراوږه دګود پر لور اخلی قدمونه
لاس یی په نکریزو خوله ډکه په خندان راځي
لاس به ورکړي «مل» سره په مینه او محبت
جاموکی نه ځایږم نن ځمابی همتا دلبرجان راځي

***** کریفلد جرمنی 2020-04-28

## خوښیږی

څه وکړمه خلکو هر ښکلي مي خوښیږی
بوسه چي تری وانخلم ورځ پرما ښه نه تیریږي
هغو چي شا یسته دی نه لری کینه په زړه کي
زړه مي د ښا یستو دلبری ته هوسیږي
مینه یی جذ به لری ما هغو چي ازمایلی دی
زړه مي هرښکلی ته بیواکه ډیر لرزیږي
زه «مل» د خوبا نو له دیداره نه مړیږم هیڅ

ژبه  مې  د ښکلو  په  صفت  هيڅ  نه  سترېږي

******

کريفلد جرمنی 2020-04-28

## منلی دي

داځه توره شپه دی چي بيلتون  پرما راوړي دي
نشته مي خندا په  شونډو سترګي مي ژړلی دي
سوځم  د  هجران  په انکار    وسه    مي نه کيږي
ډيره   موده   وشو  چي جانا ن  په سفر تللي دي
خوب له سترګوتللی اړخ په اړخ تلتک کی اوړوم
تا  چي  له  هغي ورځی  له ما شا خپل اړولي دي
ډير  يم  خپه  شوي  در پسی   کله بيا د ی وونيم
«مل»  پر ځا ن نذرونه په ليد ودی ستا منلي دي

******

کريفلد جرمنی  2020-04-28

## جلوه

ليد و  سره  مي  ځا ن   آشنا   نشم  تينګولي
له هغي ورځی چي سترګي مي پرتا   ولويدلي
په حسن اوښايست کی بی جوړه اوبی همتا يی
ماهم بی  له تا بل ښا يسته صنم  نه  دی ليدلي
ښايت دی په نخرو سره نور  هم مالګين کيږی
ما هم کله   چی   ستا نا ز   په رنو سترګو کتلي
که ته مي آشنا نشي مستقبل به مي غمګينه وي
ما(مل)چی برخه ليک خپل د ځان سره سنجلي

******

کريفلد جرمنی 2020-04-28